# جریده میزان

د سترې محکمې کاري ځرګندويه خپرونه


چهارشنبه ۲۰ سلواغه ۱۴۰۰ | ۷ رجب ۱۴۴۳هـ ق | 09 February 2022 م | شماره مسلسل (۰۲)


## د هستۍ نظام پر عدل ولاړ دی

عادل خدای (ج) په سورة الرحمن کې فرمايي
ژباړه: الله (ج) آسمان پورته کړی او تله یې ایښې ده تر څو تاسو په تله کې تېری او ټګي ونه کړئ.
د تفسیر ځینې عالمان له دې نه دا استنباط کوي چې د دنیا د هستۍ نظام پر عدل ولاړ دی، کله چې عدل له منځه لاړ شي نو د هستۍ نظام هم له منځه ځي.


د تاسیس کال ۱۴۴۳هـ ق - ۱۴۰۰ هـ ش


## د پکتیا ولایت د استیناف محکمې د غونډو په تالار کې د مفتي عبیدالله خالد په مشرۍ قضايي غونډه ترسره شوه




د ۱٤٤۳ هـ ق کال د شپږمې میاشتې په ۱۵ نېټه پکتیا ولایت کې د یادې محکمې د رییس مفتي عبیدالله خالد په مشرۍ قضايي ناسته ترسره شوه.

د یاد ولایت د استیناف محکمې د تحریراتو امریت د مسوولینو د معلوماتو له مخې، یاده ناسته چې د استیناف محکمې د غونډو په تالار کې جوړه شوې وه، د قرانکریم د مبارکو ایتونو په تلاوت پیل شوه .

د سرچینې په خبره، په دې ناسته کې د پکتیا ولایت د استیناف محکمې رییس مفتي عبیدالله خالد د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې له عالي مقام سره د خپلې لیدنې په اړه معلومات شریک کړل .

سرچینې زیاته کړې چې مفتي عبیدالله خالد د جزایي، حقوقي، وثایقو او مخزن اړوند مضوعاتو د روښانولو په موخه د ناستې له ګډونوالوسره د سترې محکمې د عالي مقام هدایات شریک کړل .

دغه راز سرچینه زیاتوي چې د مرافعې محکمې رییس قضائي منسوبینو ته د عالیقدر امیرالمؤمنین فرمانونه تشریح او د دوی ډېری پوښتنې یې ځواب کړې.

د استیناف محکمې رییس د محاکمو د انسجام او ښه والي په موخه ډېرې اصلاحي خبرې وکړې .

سرچینې زیاته کړې چې د محاکمو د چارو د بهبود په خاطر د پکتیا ولایت د مرافعه محکمې ټولو قضایي کارکوونکو ژمنه وکړه چې مونږ په خپلو قضایي چارو کې لا ډېره هڅه کوو چې زمونږ قضایي فعالیتونه چټک او د هېوادوالو ستونزو ته رسېدنه وشي.

یاده ناسته د دعا په ویلو پای ته ورسېده.

## په خوست ولایت کې قضايي ادارو ته د خلکو تګ ډېر شوی دی

له هغې ورځې چې په هیواد کې اسلامي امارت واک ته رسیدلی د هېواد د نورو ولایتونو په څېر خوست کې هم قضایي ادارو ته د عامو خلکو مراجعه زیاته شوې ده.

د خوست ولایت د استیناف محکمې مسوولین وایي چې د دغه ولایت اړند محاکمو ته هره ورځ په لسګونو کسان د شکایتونو د اورولو او د دعوو پر مخ بېولو لپاره مراجعه کوي.

د خوست د مرافعه شرعي محکمې رییس محترم مولوي عبدالکریم حقاني وایي، د خوست د مرافعه محکمې بېلا بېلو دیوانونو او دفترونو ته هره ورځ دشرعي اسنادونو د ترتیب او حق غوښتنې په موخه په لسګونو عریضې راجع کېږي.

نوموړي د خلکو د زیاتې مراجعې یولامل د اسلامي امارت پر قضاء باندې د خلکو بې ساری باور او د فساد نه شتون یاد کړ.

هغه زیاته کړه چې موږ د عدالت تامین ته په پوره معناژمن یو او ولس ته ډاډ ورکوو چې په هېڅ صورت به د دوی حق ضایع نه شي .

د خوست د استیناف شرعي محکمې رییس یادونه وکړه چې که څوک پر کوم قاضي یا بل داخلي او بیروني کس مستند معلومات ولري، کولای شي له موږسره یې شریک کړي.

د عبدالسعید په نوم یو هېوادوال چې یادې محکمې ته راغلی و وویل: ((زه د خپلې حقوقي دعوې د پرمخ بیولو لپاره دلته راغلی یم، چې ماته مې خپل حق ورسیږي .))

نوموړي وویل چې موږ اوس د تېر رژیم په پرتله د اسلامي امارت پر محکمه باندې ځکه زیات باور لرو، چې د اسلامي امارت مسوولین په هیڅ وجه رشوت نه اخلي او فساد نه کوي.




د یادونې وړ ده چې په هیواد کې واک ته د اسلامي امارت د رسېدو څو میاشتې تېرېږي، خو په ډېرې اداروکې د خلکو ګڼه ګوڼه زیاته شوې او خلک په عادي توګه د خپلو رسمي کارونو د پر مخ بیولو لپاره دوی ته مراجعه کوي.

## لوګر ولایت کې د استیناف محکمې د رییس په مشرۍ میاشتنۍ ناسته ترسره شوه.

د ۱۴۴۳ کال د شپږمې میاشتې په ۲۱ مه نېټه د لوګر ولایت د استیناف محکمې په ریاست کې د یادې محکمې د رییس محترم مولوي روح الله (عبدالسلام ) تر مشرۍ لاندې میاشتنۍ ناسته تر سره شوه.

د لوګر ولایت د استیناف محکمې د مسوولینو د معلوماتو له مخې، په یاده ناسته کې چې د قرانکریم د مبارکو ایتونو په تلاوت پیل شوه، مولوي عبدالسلام د ناستې ګډونوالو ته د قضائي او اداري مسوولیتونو په اړه لازمې او مهمې سپارښتنې وکړې .

سرچینې زیاته کړې چې مولوي روح الله (عبدالسلام) د یاد ولایت د محاکمو منسوبینو ته په خپلو چارو او پرېکړو کې پر دقت، شفافیت او وخت ته پر پاندۍ ټینګار وکړ.

سرچینه وایي، مولوي روح الله (عبدالسلام) د ناستې ګډونوالو ته د سترې محکمې د عالي شورا له خوا تازه تصویب شوې مسودې تشریح او روښانه کړې .

یادې سرچینې زیاته کړې، د لوګر ولایت د استیناف محکمې رییس په دې ناسته کې د دیوانونو او ابتدائیه محاکمو څخه د راغلو رییسانو ستونزې واورېدې او ډاډ یې ورکړ چې د قضائي تشکیل د ټولو منسوبیو ستونزو ته به د امکان تر کچې رسېدنه کوي او دوی ته به لازم امکانات برابروي.

یاده ناسته حاکم اسلامي نظام ته د بقأ او مسوولیتونو د ښه ترسره کېدو لپاره د دعا په ویلو پای ته ورسېده.

## د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې عالي مقام د نشه یي توکو د موضوعاتو د حل په موخه ځانګړې محکمه منظور کړه.

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې عالي مقام په امر، اړتیا ته د کتو له مخې د نشه یي توکو اړوند موضوعاتو د حل په موخه ځانګړې محکمه منظور شوه .

د سترې محکمې عالي مقام:

1. محترم مولوي خان محمد د یادې محکمې د قاضي په توګه.
2. محترم مفتي عبدالله تائب د یادې محکمې د مفتي په توګه
3. او محترم مولوي الفت د دغې محکمې د محرر په توګه معرفي کړل.

## جلسۀ کمیسیون رؤسای دواوین استینافی محکمۀ استیناف ولایت کندز راه اندازی شد

مسؤولان محکمۀ استیناف ولایت کندز میگویند که به تاریخ ١٧/٦/١٤٤٣ تحت ریاست محترم مولوی نورمحمد (نوری) رئیس عمومی محکمۀ استیناف غرض بررسی استهدااات واصله و عرایض مراجعین یک جسله راه اندازی شد.

به گفتۀ مسؤولان این محکمه در نشست متذکر همه رؤسای دواوین استینافی و رئیس محکمۀ ابتدائیۀ شهری، کمیسیون رؤسا، دواوین استینیافی محکمۀ استیناف ولایت کندز اشتراک کرده بوده اند.

در این نشست که به نام خداوند عادل و توانا (ج) آغاز گردید، استهدااات و عرایض مراجعین به تناوب مورد غور اعضای کمیسیون قرار گرفت.

به گفتۀ مسؤولان محکمۀ استیناف کندز در نتیجۀ بحث و تبادل نظر اعضای کمیسیون روساء نظریات و هدایات را در رابطه به موضوعات مطروحه احکام فرموده و به تحریرات هدایت سپردند تا احکام و هدایت داده شده را غرض اجراآت مقتضی به مراجع مربوط ارجاع نماید. و جلسه به دعائیه خیر و تحکیم احکام شرعی خاتمه یافت.

## ادامۀ فرمان امیرالمؤمنین عمر بن خطاب خلیفه دوم اسلام (رض) به ابو موسی اشعری (رض) در باب قضاء

آوردن بینه و شاهد بر دوش مدعی است، قسم و سوگند متوجه کسی است که انکار می کند.
صلح میان مسلمانان جایز است؛ مگر نه آن صلح که حرامی را حلال کند یا حلالی را حرام سازد.
کسی که ادعای حق غایب را دارد و یا ادعای بینه و حجت و برهانی را می‌نماید و برای آن مهلت می‌خواهد، برایش مهلت بده و میعادی را معین کن تا به آن برسد؛ اگر دلیل و گواهی آورده توانست، حق او را خواهی داد، و گرنه بر عدم اثبات دعوای اش و بر ضرر وی حکم خویش را صادر کن.
چرا که در این شیوه بیشتر از هر شیوه دیگری عذر تو خواسته است و تردید را از میان می‌برد و گره ها را می گشاید و زوایای تاریک را خوبتر روشن می سازد...

## رئیس عمومی محکمهٔ استیناف ولایت غور از محکمهٔ شهری این ولایت دیدار کرد

مسؤولان محکمهٔ استیناف ولایت غور می گویند که محترم مولوی محمد شریف (رحمانی) رئیس عمومی محکمهٔ استیناف این ولایت به تاریخ ١٦/٦/١٤٤٣ از دیوان‌های ریاست محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری ولایت بازدید به عمل آورد.

به گفتهٔ منبع، در این دیدار که محترم مولوی محمد اکبر رئیس دیوان مدنی استیناف نیز آن‌ها را همراهی می‌نمود، ابتداء از دفتر رئیس محکمهٔ شهری و سپس از دیوان‌های مدنی، دیوان امنیت عامه ، دیوان جزاء و دیوان ترافیک آن محکمه دیدار، و با رئیس و اعضای دیوان‌های یادشده ملاقات نمودند.

رئیس محکمهٔ استیناف در این ملاقات در رابطه به طرز سلوک قضائی و استقلال قضاء و بی‌طرف بودن قاضی صحبت‌های همه جانبه نمود و گفت: «شایسته ای یک قاضی این است که حین قضاوت اولاً الله (جل جلاله) را حاضر و ناظر دانسته و رضائی او را در نظر داشته باشد؛ زیر تأثیر مسائل سمتی، زبانی و قومیت نرود و سفارش هیچ زورمند را نپذیرد.»

موصوف گفت که قضایای وارده را طبق شریعت غرای محمدی، با در نظر داشت مواد اصولنامهٔ حقوقی و اصولنامهٔ اداری رسیده‌گی به موقع نمایند و در اخیر تأکید ورزید تا با مراجعین و اصحاب دعاوی برخورد نیک و حسنه داشته و همچنان احترام متقابل و روابط حسنه را با دیگر ادارات زیربط حفظ نمایند.

## د زابل استیناف محکمې ریاست له اړوند ادارو سره د همغږۍ ناسته ترسره کړه

د زابل ولایت د استیناف محکمې ریاست د ۱۴۴۳ کال د شپږمې میاشتې په ۲۹ مه نېټه د دغه ولایت له اړوند اداروسره د همږۍ ناسته ترسره کړه.

په یاده ناسته کې د ولایت مقام،امنیه قوماندانی، امر بالمعروف او نهی عن المنکر ریاست، د ټولګټو ریاست، د پوهنې ریاست، د محبس، جنایي جرمونو مدیریت ، د شهیدانو او معلولینو ریاست، د ښاروالۍ، د عامې روغتیا ریاست، د حج او اوقافو ریاست، د ترافیکو ریاست، د څارنوالۍ ریاست او ځینو نورو ادارو استازو ګډون درلود .

په یاده غونډه کې د هر مقام او ریاست له استازوسره د اړوند موضوعاتو په اړه خبرې وشوې .

په دې ناسته کې د ولایت له مقام سره چې د قضاء لایحې د اوومې مادې پر اساس د پرېکړو د اجراء دنده په غاړه لري پوره بحث وشو.

د استیناف محکمې رییس په دې ناسته کې له یادو مسوولینوسره د اړوند موضوعاتو په تړاو له خبرو وروسته له دوی څخه د عدالت په تامین کې د همکارۍ غوښتنه وکړه .

## رئیس محکمهٔ استیناف غور از محبس این ولایت دیدار نمود

مسؤولان محکمهٔ استیناف میگویند که محترم مولوی محمد شریف (رحمانی) رئیس محکمهٔ استیناف ولایت غور از محبس این ولایت بازدید به عمل آورد.

به گفتهٔ مسؤولان محکمهٔ استیناف ولایت غور، مولوی محمد شریف (رحمانی) ابتداء با مسؤولان محبس ملاقات و بعداً با هر یک از زندانیهای که در تحت حبس قرارداشتند از نزدیک صحبت نمود .

منبع افزوده است که رئیس محکمهٔ غور طی این دیدار عرایض و شکایات زندانیها را مورد غور و بررسی قراردادهاند.

منبع همچنان اظهار داشته است که رئیس محکمهٔ غور در اخیر وعده سپرد که به خاطر رسیدهگی به شکایات قانونی زندانیان با مسئولین مربوطه هدایات لازم داده خواهد شد؛ تاراجع به تعیین‌سرنوشت شان تصمیم عاجل و قانونی اتخاذ نمایند

## جلسهٔ اداری محکمهٔ استیناف ولایت بادغیس برگزار شد

مسؤولان محکمهٔ استیناف می گویند که به تاریخ ١٣/٦/١٤٤٣ تحت ریاست مولوی عبدالخالق (محمدی) رئیس عمومی محکمهٔ استیناف این ولایت جلسهٔ اداری محکمهٔ استیناف راه اندازی شد .

در این جلسه که در صالون جلسات قضائی ریاست محاکم برگزار گردید رؤسا و قضات محترمین محکمهٔ استیناف، محکمهٔ شهری، دیوان های ریاست محکمهٔ استیناف و ریاست محکمهٔ ابتدائیه شهری حضور داشته اند.

ابتداء جلسه با تلاوت کلام الله مجید آغاز شد، سپس رئیس عمومی محکمهٔ استیناف طی صحبت های عالمانهٔاش برای عموم قضات و پرسونل اداری محاکم مربوط توصیه های جدی نمود و گفت که تماماً پرسونل قضائی، اداری و خدماتی در اوقات رسمیات به حاضری خویش پابندی داشته باشند.

رئیس محکمهٔ استیناف افزود که کوشش شود تا به تمام قضایای جزائی، حقوقی و امنیت عامهٔ محاکم مربوط این ولایت طبق شریعت غرای محمدی (صلی الله علیه وسلم ) به وقت وزمان آن رسیده گی شود و با مراجعین قضایای محاکم برخورد نیک و روحیه حسنه صورت گیرد.

او گفت که در محاکم باید به هیچ وجه مسائل قومی و لسانی وجود نداشته باشد؛ در صورت مشاهده با متخلفین برخورد شرعی و قانونی صورت می گیرد.

رئیس محکمهٔ استیناف در مورد حضور بعضی اشخاص و افرادی که به محاکم به طرفین قضایا واسطه می شوند گفت که به چنین افراد فرصت داده نشود، و در صورت مشاهده با همچون افراد فرصت طلب برخورد شرعی و قانونی جدی صورت می گیرد.

در اخیر قضات محترم ریاست محکمه استیناف از اجراآت تعداد (٥٠) پنجاه دوسیه های قضایای جزائی و حقوقی که بعد از پیروزی مجاهدین امارت اسلامی افغانستان به دیوان های جزاء و مدنی حقوق عامه تحت بررسی قرارداشته است به رئیس محکمه استیناف گزارش ارائه نمودند.

آن ها گفتند که از جمله پنجاه جلد دوسیه وارده به تعداد (٦) قضیه آن فیصله شده است و به تعداد (٣٢) قضیه آن غرض خلاء نواقص مکتوبی به مراجع ذیربط مسترد گردیده و (١٢) قضیه دیگر آن تحت بررسی قضائی قرار دارد.

همچنان در دیوان های جزاء، مدنی و حقوق عامه ریاست محکمه شهری به تعداد (٧٨٦ ) دعوی جزائی و حقوقی ثبت شده که اکثریت قضایا فیصله و یا هم به اصلاح طرفین خاتمه یافته است و باقیمانده قضایا تحت بررسی قضائی قراردارد.

## د میدان وردګو ولایت د استیناف، ښهري او ابتدائیه محاکمو د رییسانو تر منځ ناسته ترسره شوه

د ۱۴۴۳ هـ ق کال د شپږمې میاشتې په ۲۴ مه نېټه د میدان وردګو ولایت د استیناف محکمې په ریاست کې د یادې محکمې د رییس مولوي امان الله حامد په مشرۍ د ښاري او ابتدائیه محاکمو د رییسانو ناسته ترسره شوه .

په یاده ناسته کې چې د قرانکریم د مبارکو ایتونو په تلاوت پیل شوه د استیناف محکمې رییس د غونډې ګډونوالو ته د خبرو پر مهال ځینې سپارښتنې وکړې .

د استیناف محکمې رییس مولوي امان الله «حامد» ټینګار وکړ چې ټول موضوعات باید د عریضې مطابق په اصولي طریقه وڅېړل شي او د حکم او پرېکړې پر مهال د ټول شرعي اصول او لایحې عملي شي.

دغه‌راز د استیناف محکمې رییس وویل چې له اړوند ادارو دې پر وخت څارنه وشي او د هرې ربعې راپور دې پر ټاکلي وخت ترتیب شي .

وروسته د ابتدائیه محاکمو مسوولینو خپلې ستونزې شریکې کړې او وویل، د چارو د ښه ترسره کېدو لپاره دوی ته ښوونیز سیمنیار جوړ شي.

د استیناف محکمې رییس مولوي امان الله وویل، د سترې محکمې د هدایاتو په نظر کې نیولوسره به د یادو ستونزو د حل لپاره لازم اقدامات ترسره شي.

یاده ناسته د حاکم‌شرعي نظام د ثبات او دوام لپاره د دعاء په ویلو پای ته ورسېده.

## د بلخ ولایت د استیناف محکمې په تالار کې غونډه ترسره شوه

د ۱۴۴۳ هـ ق کال د جمادی الثاني میاشتې په ۲۴مه نېټه د بلخ ولایت د استیناف محکمې د رییس محترم مولوي ابوالوفاء محمد یوسف المظهري په مشرۍ ناسته ترسره شوه .

په یاده ناسته کې چې د قران کریم د مبارکو ایتونو په تلاوت پیل شوه د بلخ ولایت د استیناف محکمې، ښاري محکمې او ټولو ابتدائیه محاکمو، د دیوانونو رییسانو، مفتي صاحبانو او محررینو ګډون کړی وو.

د استیناف محکمې رییس ابولوفاء د ناستې ګډونوالو ته د سترې محکمې هدایات واضح او روښانه کړل او وویل، د ټولو محاکمو مسوولین باید پر ټاکلي وخت خپل کاري راپورونه جوړ او ترتیب کړي.

نوموړي ټینګار وکړ چې د هېوادوالو ستونزو ته د اسلامي شریعت او محاکمو د اصولو مطابق په بشپړه ایمانداری او اخلاص رسېدنه وکړئ.

یاده ناسته د ځینو نورو موضوعاتو په تړاو تر بحث وروسته د دعاء په ویلو پای ته ورسېده.

## دکاپیسا ولایت د استیناف محکمې رییس له «حصه اول» او «حصه دوم» ولسوالیو او محاکمو نه لیدنه وکړه

د کاپیسا ولایت د استیناف محکمې رییس مولوي میرآقا چې پر مولوي ذبیح الله (خالد) مشهور دی، د کاپیسا ولایت د ښاري محکمې رییس مولوي عبد الرووف (سعادت) او ورسره مل پلاوي له «حصه دو» او «حصه اول» ولسوالیو او محاکمو نه لیدنه وکړه .

د کاپیسا ولایت د استیناف محکمې رییس د یادې لیدنې پر مهال د دغه ولسوالیو ولسوالان او نور اړوند ارګانونه خپلو دندو ته متوجه کړل .

نوموړي د قضاء د اهمیت په تړاو خبرې وکړې او ولسوالانو ته یې وویل، د قاضیانو د ساتنې او انتقال او دغه‌راز د مطلوبو کسانو په جلب کې پوره همکاري وکړئ .

د یادو ولسوالیو ولسوالانو په دې لیدنه کې د هر ډول همکارۍ ډاډ ورکړ او وویل، مونږ هر ډول همکارۍ ته‌ژمن یو.

د استیناف رییس او ورسره مل پلاوي په همدې ورځ د کاپیسا ولایت له عمومي محبس نه کتنه وکړه او بندیانو ته یې په خطاب کې وویل چې په خپل بد عمل باندې پښېمانه او الله (ج) ته توبه وکړي .

د استیناف محکمې رییس بندیانو ته ډاډ ورکړ چې زر تر زره به یې دوسیې وڅېړل شي او اړوند مراجعو ته به حواله شي ترڅو د قانون په رڼا کې حل او فصل شي .

د استیناف او ښهري محاکمو رییسانو د زندانونو تر لیدنې وروسته د کاپیسا ولایت له محترم والي محمدالله (ادریس) سره د بندیانو په تړاو خبرې وکړې، والي صاحب‌ژمنه‌وکړه چې د بندیانو د دوسیو څېړلو په موخه به پلاوی وټاکو چې د بندیانو دوسیې تر څېړنې وروسته اړوند مراجعو ته‌وسپاري.

## کاپیسا ولایت کې د استیناف محکمې د رییس په مشرۍ ناسته ترسره شوه

د۱۴۴۳ هـ ق کال په جمادي الثاني میاشت کې د کاپیسا ولایت د استیناف ریاست په کاري دفتر کې د استیناف محکمې د رییس په مشرۍ ناسته ترسره شوه.

په دغې ناسته کې چې د قرانکریم د څو مبارکو ایتونو په تلاوت پیل شوه د استیناف محکمې رییس د ناستې ګډونوالو ته لازمې لارښونې وکړې .

دغه‌راز د استیناف محکمې رییس د ناستې له ګډونوالوسره د افغانستان د اسلامي امارت د سترې محکمې د عالي مقام غږیز پیغام شریک کړ .

د استیناف محکمې رییس دې ته په اشاره چې‌زموږ پرېکړې باید د اسلامي شریعت او اسلامي امارت د اصولنامې مطابق وي وویل، له مراجعینوسره باید نېکه رویه وشي .

یاده ناسته د استیناف محکمې د رییس له خوا د حاضرینو د ستونزو تر اورېدو وروسته د دعا په ویلو پای ته ورسېده.

.

## د لغمان ولایت د استیناف محکمې او استخباراتو لوی ریاست لخوا جوړ شوي پلاوي د دغه ولایت له زندانونو لیدنه وکړه.

د لغمان ولایت د استیناف محکمې او استخباراتو لوی ریاست په هدایت د امر باالمعروف د رییس محترم مولوي هیات الله په مشرۍ شپږ کسیزه پلاوی جوړ او د دغه ولایت له زندانونو یې لیدنه وکړه .

د استیناف محکمې د جزاء دیوان رییس مولوي عارف الله، د استیناف څارنوالۍ رییس مولوي محمد ابراهیم «کاون»، د استخباراتو ریاست استازي عبدالله «چمن»، د امنیې قوماندانۍ جنایي امر مولوي دلاور او د ولایت مقام استازي قاري صدیق الرحمن د یاد پلاوي غړیتوب درلود.

په دې لیدنه کې د زندانیانو ستونزې واورېدل شوې او د حل په موخه یې بشپړ راپور جوړ او له اړوند ادارو سره شریک شو.


د پلاوي مسوولینو د زندانیانو د دوسیو د پر وخت څېړلو لپاره بندیان په څو کټګوریو ووېشل او ژمنه یې وکړه چې په ټاکلي وخت به یې دوسیو ته رسېدنه کېږي.

## در ریاست محکمه استیناف ولایت نورستان به قضات محاکم این ولایت سیمینار راه اندازی شد

مسؤولان در محکمهٔ استیناف ولایت نورستان می گویند که رئیس این محکمه به منظور ظرفیت سازی مسلکی و اجراآت تخصصی در موضوعات حقوقی، جزائی و اداری و ترتیب انواع وثایق به قضات جدید الشمول سیمینار راه اندازی کرده است.

در این سیمینار که در صالون ریاست محکمه استیناف این ولایت روزانه از ساعت ۱۰:۳۰ الی ۱۱:۳۰ دوام می کند به سوالات مشترکین پاسخ لازم ارائه می گردد و به خاطر تأمین عدالت قضایی اصولنامهٔ اداری محاکم تشریح می گردد.

در سیمینار ذکرشده که از سوی مفتی عبیدالله سلیم رییس محکمه مرافعه ولایت نورستان ارائیه می شود مولوی گل الرحمن رئیس دیوان جزاء استیناف، مولوی عبدالحمید مفتی دیوان جزاء استیناف ، مولوی امین الرحمن محرر دیوان جزاء استیناف، مولوی فضل الحق مفتی دیوان مدنی استیناف، مولوی عبدالهادی محرر دیوان مدنی استیناف، مولوی محمد یحی رئیس دیوان امنیت عامه استیناف، مولوی محب الرحمن مفتی دیوان امنیت عامهٔ استیناف، مولوی زاهد الله محرر ریاست دفتر وثایق، مولوی غلام الله مفتی دیوان جزاء شهری، مولوی نقیب الله محرر دیوان جزاء شهری، مولوی محمد اسلام رئیس دیوان مدنی شهری، مولوی احسان الله محرر دیوان مدنی شهری، مولوی ثناء الله رئیس دیوان امنیت عامهٔ شهری، مولوی محمد صیام مفتی دیوان امنیت عامه شهری و مفتی




محمد شاکر مفتی دیوان نظامی شهری اشتراک ورزیده بوده اند.

## جلسۀ اداری ریاست محکمۀ استیناف ولایت بامیان برگزار شد

مسؤولان محکمۀ استیناف بامیان گفته اند که به تاریخ ۲٦/٦/۱٤٤۳ تحت رهبری محترم شیخ نقیب الله "فرقانی" رئیس محکمۀ استیناف بامیان جلسۀ اداری ریاست محکمه این ولایت دایر گردید.

بر اساس معلومات منبع در این جلسه که در مقر ریاست محکمه استیناف بامیان تدویر شد، قضات و کارمندان اداری شعبات و دیوان های استینافی، محکمه ابتدائیه شهری و آمریت دفتر ثبت اسناد وثایق مخزن اشتراک داشته اند.

در جلسۀ ذکرشده که با قرائت کلام الله مجید آغاز گردید روی برخی موضوعات مهم بحث و تبادلۀ نظر صورت گرفت.

به گفتۀ منبع رئیس محکمۀ استیناف ولایت طی این جلسه بیان نمود که در هر جای که مشغول کار وخدمت می باشیم باید از قانون و مقررات آن نهاد اطاعت و پیروی نماییم.

موصوف گفت که تمام پرسونل مکلف اند که مطابق قانون درزمان معین به وظایف شان حاضر شوند.

رئیس محکمۀ استیناف در مورد دوسیه های که تحت دوران گذشته و دوسیه های که جدیداً مواصلت نموده به تمام دواوین هدایت داد که مطابق احکام شریعت محمدی (ص) به‌آن‌رسیده گی نماید تا کار خلق الله معطل قرار نگیرد.

## رئیس محکمه استیناف هرات از زندان ها و مرکز اصلاح و تربیت اطفال این ولایت دیدار نمود

مسؤولان محکمۀ استیناف ولایت هرات می گویند که مولوی عبدالله (قادری) رئیس محکمۀ استیناف با معیت برخی از مسؤولان مربوطۀ این ولایت از محبس مرکزی، محبس‌زنان و دیگر مرکز اصلاح و تربیت اطفال این ولایت بازدید نمود.

رئیس محکمۀ استیناف با همراهی رئیس دیوان جزاء استیناف، نمایندۀ مقام ولایت، نمایندۀ ریاست خارنوالی استیناف، نمایندۀ قوماندانی امنیه و نمایندۀ ریاست استخبارات به تاریخ ۲/٤/۱٤٤۳ از محابس فوق بازدید نموده اند.

ابتداء رئیس محاکم و هئیت همراه شان با مسئولین زندان ها صحبت نمود، از آن ها خواست که احکام قوانین، سرعت و دقت در تطبیق فرامین، اجتناب از توقیف های غیر ضروری و رعایت برخورد مناسب با محبوسین را رعایت نمایند.

رئیس محکمه استیناف با هئیت متذکره دوسیه های زندان های محبس مرکزی را مورد بررسی قرارداد، و به تعداد (۷۳۰) دوسیۀ جرایم مختلف النوع را چک و بررسی کرد.

رئیس محکمۀ استیناف به مسؤولان هدایت داد تا هرچه زودتر دوسیه های یک تعداد از محبوسین که بدون سرنوشت در زندان بودند، بررسی نموده و به زودترین فرصت محاکمه شوند.

همچنان بعضی از زندان ها که بدون اتهام و معرض علیه در حبس قرارداشتند، به قید ضمانت آزاد گردیدند.

رئیس محکمۀ استیناف از زندان زنانۀ هرات نیز بازدید به عمل آورد و به تعداد (۸۷) دوسیۀ مختلف النوع مربوط این زندان را مورد بررسی قرار گرفت.

رئیس محکمه پس از شنیدن مشکلات زندانیان زن به‌آن ها وعده داد که دوسیه های شان به گونه عادلانه، شفاف، بی طرف و طبق احکام شریعت اسلامی مورد بررسی قرار خواهد داد تا هیچ‌زندانی بدون دلیل و محاکمه در قید نباشد.

همچنان‌رئیس محکمه مرافعه با هئیت همراه از مرکز اصلاح و تربیت اطفال نیز بازدید کرد، موصوف با هر یک از محجوزین و یک تعداد فامیل های شان به گونه انفرادی دیدار نمود.

رئیس محکمۀ استیناف هدایت داد که به تعداد (۲٦) تن از محجوزین که از محکمه برائت حاصل نموده بودند از حبس‌رها گردند .

همچنان رئیس محکمه به والدین اطفال گفت که حق اطفال خویش‌را دانسته و در قسمت مواظبت و تربیت اطفال خویش بیشتر از پیش تلاش نمایند.

در اخیر رئیس محکمۀ مرافعۀ ولایت هرات به مسؤولان زندان های فوق هدایت داد، تا تمام دوسیه های محبوسین‌را در اسرع وقت به گونه شفاف مورد بررسی قرارداده و هیچ زندانی نباید بدون محاکمه و تعیین سرنوشت در حبس باشد.

## پکتیا ولایت کې حقوقي او قضايي ناسته ترسره شوه

د۱٤٤۳هـق کال د جمادی الثاني میاشتې په ۸مه نېټه په پکتیا ولایت کې د ( قضایي او حقوقی جلسې) تر عنوان لاندې لویه غونډه ترسره شوه .

په یاده غونډه کې چې د پکتیا د والي مولوي محمد په مشرۍ ترسره شوه د پکتیا ولایت د استیناف محکمې رییس مفتي عبیدالله «خالد» ،د پکتیا مرستیال والي شیخ عزیز الرحمن «منصور» امنیه قوماندان، د استخباراتو رییس، د استیناف څارنوالۍ رییس، د عدلیې رییس، د ځمکو او ښار جوړونې رییس، د ښاروالۍ رییس، د قضاياي الامارت امر، د کرنې رییس ، د محبس لوی مدیر او د امنیه قوماندانۍ جنايي مدیر ګډون کړی و.

په یاده غونډه کې چې د قرانکریم د مبارکو ایاتونو په تلاوت پیل شوه د پکتیا ولایت د استیناف محکمې رییس مفتي عبیدالله «خالد» د زندانیانو او د هغوي د دوسیو په اړوند بشپړ معلومات وړاندې کړل .

دغه راز مفتي «خالد» د هغو دوسیو په اړه چې اوس مهال په محاکمو کې تر کار لاندې دي معلومات ورکړل.

په یاده ناسته کې د پکتیا ولایت د قضایي، عدلي او حقوقي موضوعاتو د بشپړ بحث تر څنګ د قضاياي الامارت امر د غصب شوو ځمکو په تړاو بشپړ معلوماتو شریک کړل .

د پکتیا ولایت د استیناف محکمې رییس مفتي عبیدالله «خالد» په دې ناسته کې عدلي او حقوقي مسوولینو ته د اړوند موعاتو په اړه لازم هدایات وکړل او ناسته پر یو شمېر نورو موضوعاتو تر بحث وروسته د دعا په ویلو پای ته ورسېده.

## دایکنډي ولایت کې د استیناف محکمې د رییس په مشرۍ میاشتنۍ ناسته ترسره شوه

د دایکنډي ولایت د استیناف محکمې مسوولین وایي چې د دې محکمې د عمومي رییس الحاج شیخ مولوي عبدالکریم (محمد) په مشرۍ په ۲۳/٦/۱٤٤۳ نېټه د دغه ولایت د اړوند محاکمو د مسوولینو میاشتنۍ غونډه ترسره شوه.

په دې غونډه کې چې د قرانکریم د مبارکو ایتونو په تلاوت پیل شوه د استیناف محکمې رییس د خپل ولایت اړوند محاکمو د لاښه پرمختګ په اړه خبرې وکړې.

دغه راز د استیناف محکمې رییس د ابتدائیه محاکمو له رییسانو سره د محاکمو پر ستونزو او او نورو اړوند مسایلو خبرې وکړې .

د استیناف محکمې عمومي رییس الحاج شیخ مولوي عبدالکریم (محمد) د اړوند محاکمو رییسانو ته د خلکو د ستونزو د حل او فصل لپاره لازمې لارښوونې وکړې .

په یاده ناسته کې د محاکمو د مسوولینو تر څنګ یو شمېر ولسي وګړو هم ګډون کړی او له مراجعینو سره د دایکنډي ولایت د محاکمو د مسوولینو د ښه سلوک او چلند څخه یې مننه وکړه .

ولسي وګړو د محاکمو له فعالیت څخه د خوښۍ او رضایت ځرګندولو تر څنګ د استیناف محکمې له رییس سره خپلې ځینې ستونزې هم شریکې کړې .

یادو ولسي-وګړو له محاکمو ملاتړ اعلان کړ او د اړوند مسوولینو له نه ستړي کېدونکو هلو ځلو يې مننه یې وکړه.

## د لغمان ولایت د استیناف محکمې اداري غونډه ترسره شوه

د ۱۴۴۳ کال د جمادی الثاني میاشتې په ۲۸مه نېټه د لغمان ولایت د مرافعې محکمې په انګړ کې ددې محکمې د عمومي رییس په مشرۍ اداري غونډه ترسره شوه .

په یاده غونډه کې چې د قرانکریم د مبارکو ایتونو په تلاوت پیل شوه د لغمان ولایت اړوند مرافعې او ابتدائیه محاکمو ټولو قاضیانو ګډون کړی و.

په دې غونډه کې د مرافعې محکمې عمومي رییس حاضرینو ته ښه راغلاست وویل او زیاته یې کړه، ټول قضات باید د قاضي صفتونه ولري .

دغه راز نوموړي حاضرۍ ته د کارکوونکو پر پابندۍ او د چارو پر شفافیت ټینګار وکړ .

په دې اداري ناسته کې پر یو شمېر نورو موضوعاتو سربېره د راپورونو پر ترتیب او د محصولاتو د تحویلولو په اړه خبرې وشوې.

## رئیس محکمۀ استیناف ولایت غور از محاکم ابتدائیۀ این ولایت بازدید به عمل آورد

مسؤولان محکمۀ استیناف ولایت غور میگیوند که محترم مولوی محمد شریف (رحمانی) رئیس این محکمۀ با معیتی یکی از اعضای قضائی خود از محاکم ابتدائیۀ ولسوالیهای غور بازدید به عمل آورد.

رئیس محکمۀ استیناف در جریان دیدار از محکمۀ ابتدائیۀ ولسوالی ساغران؛ ابتداء با رئیس و اعضای قضائی این محکمه ملاقات کرد و راجع به پیشبرد امورات حقوقی خلق الله، رسیدهگی به موقع به دوسیههای وارده بحث کرد و نیز هدایات لازم را در هر بخش انجام دادند.

مولوی محمد شریف (رحمانی) بعداً در مورد روابط حسنه با مراجعین و اصحاب دعاوی طبق رهنمودهای اداره محترم عالی سخنرانی کرد، با مسؤولین و مجاهدین و بقیه ملت در رابطه به پابندی به حاضری توصیههای همه جانبه را ایراد نمود.

همچنان‌رئیس محکمۀ استیناف ولایت غور از محکمۀ ابتدائیۀ ولسوالی تولک، محکمۀ ابتدائیۀ ولسوالی شهرک، محکمۀ ابتدائیۀ ولسوالی پسابند و محکمۀ ابتدائیۀ ولسوالی دولینه بازدید کرد.

رئیس محکمۀ استیناف در جریان این دیدارها به مسؤولین قضائی محاکم فوق الذکر در مورد پیشبرد امورات حقوقی اصحاب دعاوی طبق شریعت غرای محمدی و با در نظر داشت اصولنامۀ اداری واصولنامۀ حقوقی هدایات لازم داد و توصیه نمود تا با مراجعین و اصحاب دعاوی برخورد حسنه داشته باشند.

## د زابل ولایت استیناف محکمه کې د دغه ولایت د زندانونو د قضايي پلاوي مشر معرفي شو

د زابل ولایت استیناف محکمه کې د ۱۴۴۳ کال د جمادی الثاني میاشتې په ۲۹مه د دغه ولایت د زندانونو د قضايي پلاوي دمشرۍ د معرفت غونډه ترسره شوه.

یاده غونډه تېره (سه شنبه) د دغه ولایت له چارواکو سره دهماهنګۍ او همغږۍ له ناستې وروسته ترسره وه .

په دې غونډه کې د قضايي پلاوي نوي مشرۍ یادو مقامونو او ریاستونو ته ور وپېژندل شو او هغه مقامونه اوریاستونه چې د یاد پلاوي غړیتوب لري (دولایت مقام مرستیال، د ښوونې او روزنې ریاست استازی او د امربالمعروف او نهی عن المنکر ریاست استازی) هم له دې موضوع او د پلاوي له ګډون څخه خبر شول .

په یاده غونډه کې لومړی د عالیقدر امیر المؤمنین هغه فرمان ولوستل شو چې ستري محکمې ته یې د بندیانو پلاوي ټاکلو په تړاو لیږلی و، په دویم پړاو کې هغه لیکونه ولوستل شول چې د سترې محکمې له عالي مقام څخه د زابل استیناف محکمې ریاست او ولایت مقام ته رالیږل شوي وو.

په یاده غونډه د پلاو طرزالعمل په اړه مفصلې خبرې وشوې او دطرزالعمل هغه ۳۹ مادې هم وکتل شوې چې د مشرتابه له مقام څخه د طرزالعمل لپاره وضع شوې وې او د عالیقدر امیرالمؤمنین د فرمان له مخې د غونډې ګډونوالو ته د هغې خبرې یادونه او ټینکار وشو چې په فرمان کې یادونه شوې وه چې ژر تر ژره باید دپلاوي غړي خپل کار پیل کړي او بندیان په محبسونو بې سرنوشته پاته نه شي.

سرپرست مسوول مدير :مولوي عبدالبصير(مشعل)
اډيتور : جواد الله ( جاهد )
ډيزاين : عبدالله ( فرزان )


د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې دغه خړګندويه خپرونه په مياشت کې درې ځلې چاپيږي.

## د پروان ولايت د استيناف او ابتدائه محاکمو د رييسانو تر منځ مياشتنۍ ناسته تر سره شوه

د پروان ولايت د استيناف محکمې مسوولين وايي چې د دغه ولايت د استيناف محکمې رييس د ولسواليو د ابتدايي محاکمو له مسوولينوسره ناسته وکړه .
د سرچينې د معلوماتو له مخې، په ياده ناسته کې د ښهري محکمې پر رييس سربېره د پروان ولايت د نهو ولسواليو د ابتدائيه محاکمو مسوولينو هم ګډون درلود.
سرچينې زياته کړې چې د پروان ولايت د استيناف محکمې رييس ښاغلي شيخ القرآن والحديث مولوي محمد قسيم محمدي په دې ناسته کې د ياد ولايت د اړوند محکمو مسوولينو ته د سپارښتنو تر څنګ د يادو مسوولينو ستونزې واورېدې .
سرچينه زياتوي چې د استيناف محکمې د رييس له لوري دوی ته ډاډ ورکړل شو چې د قضائي منسوبينو ټولو ستونزو ته به د امکان په صورت کې رسېدنه کوي او ټول لازم امکانات به ورته برابروي .
د يادونې وړ ده چې د پروان ولايت د استيناف محکمې رييس پر ښاري محکمې سربېره د ياد ولايت له ټولو ابتدايي محاکمو ليدنه وکړه.

## د خوست د استيناف محکمې د مراجعينو خونه په نوې بڼه جوړه شوه

د خوست ولايت د استيناف محکمې د مراجعينو د انتظار خونه په نوې بڼه پر فرنيچرو او څوکيو سمبال شوه.
د يادې انتظار خونې لپاره څوکۍ او نور لوازم د خوست د استيناف محکمې له عادي بوديجې څخه په استفاده وپېرل شول.
له دې مخکې د خوست استيناف محکمې ته د مراجعينو لپاره د انتظار مناسب انتظام نه وو موجود او تر ډېره به خلک د خپلو عرايضو او کارونو د طې مراحلو لپاره په دهليزونو کې ولاړ وو.
د خوست د استيناف محکمې رييس مولوي عبدالکريم حقاني وويل چې زموږ ټوله هڅه دا ده چې خلکو ته غوره خدمات ترسره کړو او تر ډېره د يو منظم سيستم په اساس خلک خپل ورځني رسمي کارونه په اسانۍ ترسره کړي.
د يادونې وړ ده چې په دې وروستيو کې د خوست د استيناف محمکې مقام او ټولو ديوانونو ته د خپلو رسمي کارونو د ترسره کولو لپاره زيات شمېر هېوادوال مراجعه کوي.



## گزارش اجراآت محکمهٔ استیناف ولایت ننگرهار

گزارش اجراآت دواوین محاکم استیناف، ابتدائیهٔ شهری، ولایت ننگرهار از بابت ربع اول سال ۱٤٤۳ دربخش حقوقی و جزایی به شرح ذیل مواصلت ورزیده است :
**دربخش حقوقی:** به تعداد ۲٤دوسیه وارد شده که از جمله ۱۰ دوسیه‌آن فیصله و به تعداد ۱٤ دوسیه‌آن به قرار قضائی مسترد گردیده است .
**در بخش جزائی:** به تعداد ۹ دوسیه وارد شده که از جمله ۷ دوسیه فیصله شده و به تعداد ۲ دوسیهٔ دیگر آن به قرار مسترد گردیده است.
همچنان به تعداد ۱۳۰ تن از محبوسین بعد از سپری نمودن طی مراحل محاکماتی از حبس رها گردیده اند و نیز مجموعاً عواید محکمه استیناف و شهری در ربع اول مبلغ (۹۲۳۲۰۰) افغانی بوده که به خزانه دولت تحویل گردیده است .

## د پکتيا د استيناف محکمې رييس د دغه ولايت د عامې روغتيا رياست له مسوولينو سره وکتل

د ۱٤٤۳هـ ق کال د شپږمې مياشتې په ۲۷مه نېټه د پکتيا ولايت د مرافعې محکمې رييس مفتي عبيدالله(خالد) د دغه ولايت د عامې روغتيا له رييس ډاکتر صدرالدين (اعزام)، د مرکز ګرديز د حوزوي روغتون له رييس ډاکتر نعمت الله(ظهير) او د نوموړي رياست د روغتيايي قوانينو له امر ډاکتر نور ياسين‌سره په خپل کاري دفتر کې وکتل.
د مرافعې محکمې رييس له روغتيايي مسوولينو وغوښتل هغه کسان چې د نکاح خط يا زوجيت د جوړولو په خاطر محکمې ته مراجعه کوي ترڅو د ناورغۍ له امله د خپلې درملنې لپاره بهرنيو هېوادونو ته سفر وکړي، کله چې د معاينې لپاره د عامې روغتيا رياست ته لېږل کيږي بايد په سم ډول معاينه او دقيق راپور يې د پکتيا ولايت مرافعې محکمې ته راولېږل شي .
نوموړي وويل، د پکتيا ولايت د مرکز ګرديز او ولسواليو په روغتيايي مرکزونو کې دې د اخلاقی فساد پر وړاندې جدي مبارزه وشي .
د پکتيا د استيناف محکمې رييس زياته کړه، د دغه ولايت د کشفي او امنيتي مسوولينو له خوا هغه کسان چې د عدلي طب په خاطر د پکتيا ولايت د عامې روغتيا رياست ته راجع کيږي بايد په دقيق ډول ورباندې اجراات وشي.
بايد وويل شي چې د دواړو ارګانونو رييسانو له يو بل سره د همکارۍ ژمنه وکړه او روښانه يې کړه چې پر ټاکلي وخت به اړوند ستونزو ته رسېدنه کوي.
ياده ناسته د ځينو نورو موضوعاتو په اړه تر خبرو وروسته د دعاء په ويلو پای ته ورسېده.

## د پکتيا ولايت د مرافعې محکمې اوونيزه غونډه ترسره شوه

د پکتيا ولايت د مرافعې محکمې مسوولين وايي چې د ۱٤٤۳ هـ ق کال د شپږمې مياشتې په ۲۷ مه نېټه د يادې محکمې د رييس مفتي عبيدالله (خالد) په مشرۍ د دغه ولايت د مرافعې محکمې اونيزه غونډه ترسره شوه.
په ياده ناسته کې چې د قرانکريم د مبارکو ايتونو په تلاوت پيل شوه، د مرافعې محکمې رييس مفتي عبيدالله (خالد) خپل قضايي او اداري پرسونل ته ښه راغلاست وويل.
دغه‌راز د پکتيا ولايت د استيناف محکمې رييس د غونډې ګډونوالو ته د سترې محکمې د تازه هداياتوسره سم د قضايي چارو د ښه ترسره کولو په تړاو خبرې وکړې.
د استيناف محکمې رييس په دې ناسته کې د وثايقو د تحرير او عايداتو په اړه پر وضاحت سربېره د حقوقي او جزايي پرېکړو، عوايدو او د عريضو د عوايدو په تړاو اړين معلومات ورکړل.
نوموړي د پکتيا ولايت له ټولو قضايي او اداري کارکوونکو غوښتنه وکړه چې په اونۍ کې يو ځل د خپلو اجرااتو راپور د پکتيا ولايت د استيناف محکمې له رياست‌سره شريک کړي .
په دې غونډه کې د پکتيا ولايت د استيناف محکمې او د مرکز ګرديز د ښاري ابتدايي محکمې مسوولينو هم خبرې وکړې او د کارونو د لا ښه ترسره کولو په تړاو يې خپل وړانديزونه او نظرونه شريک کړل.




## رئيس عمومی محکمهٔ استیناف ولایت بادغیس با والی این ولایت دیدار نمود

مسؤولان محکمهٔ استیناف ولایت بادغیس می گویند که مولوی عبدالخالق (محمدی) رئیس عمومی محکمهٔ استیناف با محترم مولوی عبدالصمد (جاوید) والی این ولایت در دفتر کاری اش دیدار نمود.
به گفتهٔ منبع، مولوی عبدالخالق (محمدی) در جریان این ملاقات روی بعضی از موضوعات از جمله مدیریت محبس، ارگانهای عدلی و قضائی و رسیده گی به قضایای جزائی و حقوقی بحث و گفتگوی همه جانبه نمود.
سپس رئیس محکمه استیناف روی روابط و همکاری بین ارگانهای عدلی، قضائی و اجرائیوی آن ولایت تأکید ورزید و جلسه به دعائیهٔ خیر خاتمه یافت.

## د لوګر د قضائي تشکيل نويو ګمارل شوو محريرينو ته په استيناف محکمه کې د وثايقو اړوند روزنيز

د لوګر ولايت د استيناف محکمې مسوولين وايي چې د دغه ولايت د قضائي تشکيل نويو ګمارل شوو محريرينو ته په استيناف محکمه کې د وثائقو په اړه يو ورځنی روزنيز سيمينار جوړ شوو.
د يادې سرچينې د معلوماتو له مخې په دغه روزنيز سيمينار کې چې د ۱۴۴۳ کال د شپږمې مياشتې په ۲۱ مه نېټه د لوګر ولايت د استيناف محکمې په رياست جوړ شوی و د ياد ولايت د قضائي تشکيل لسګونو محريرينو ګډون کړی وو .
سرچينې زياته کړې چې په ياد سيمينار کې محريرينو ته د وثايقود درج او ترتيب په اړه لازم پوهاوی ورکړی شو.

میزان
د ليکوال پلاوي تر څارنې
پته: ستره محکمه، د بهرنيو، عامه اړيکو او مطبوعاتو رياست
publication@supremecourt.gov.af
www.supremecourt.gov.af
د ټيلفون شمېرې: ۰۲۰۲۳۰۰۳۹۱
۰۲۰۲۳۰۲۲۹۳